مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۵/۱۶

# ته ځوک یی؟

**ګلان چی په لمبو کی سوزیده، ته خندیدی !**
**چی ننګ په کاغذونو بدلیده، ته خندیدی!**

**څه داسی ښکاریده لکه حاکم چی وی شیطان**
**ښارونه چی وحشت کی ورانیده، ته خندیدی!**

**کوله تماشا دی د با با د غـره له ځـوکی**
**بمونه چی په خلکـو وریـده، ته خندیدی!**

**ته ځوک یی نه پوهیږم ئی د کومی دنیا زوی؟**
**کـورونه چـی درو کی نړیـده، ته خندیدی!**

**لعنت درته له ورایـه اسـتولو خپـلی مـور**
**چی وروردی دمورغیږکی مړکیده، ته خندیدی!**

**حیران یم چی نن څنګه شوی ناجی د پرګنـو؟**
**پرون چی دا مخـلوق هـلاکیـده، ته خندیدی!**

**نن هـم کلـه پرون کـوی سـلوک د لیـونـو**
**خوا خوږی کلیوال دی غرقیده، ته خندیدی!**

می/۲۰۱۹/۱۴
مرکم ـ تورنتو ـ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ